**Department of Pashto**

**University of Peshawar**

Ph. 091-9216487, 091-9216701-10 (3060)

**پښتو څانګه**

**پېښور پوهنتون**

درې ورځنے نړیوال کانفرنس

# دهشت ګردي او د دې اثرات، په پښتنو او پښتو ادب

# IMPACTS OF TERRORISM ON PASHTOONS AND PASHTO LITERATURE

## خُلاصه

د پښتنو سیمه د ډېرې مودې نه د دهشت ګردۍ په خوني پنجه کښې راګېره ده ۔ د دې په وجه یې په دې سیمه خراب اثرات ډېر ژور پرېوتل۔د یولسم ستمبر (9/11) د پېښې نه پس د عالمي قوتونو سترګې نېغ په نېغه دې سیمې ته راواوګرځېدې چې په نتیجه کښې یې د دهشت ګردۍ داسې اور ولګېدو چې اثرات یې د دې سیمې په ادب،معاش،صحت،تعلیم،ماحول،او رویو باندې نېغ په نېغه پرېوتي دي ۔ د دهشت ګردۍ په دې سېلاب کښې بې شمېره ځوانان شهیدان ،ماشومان یتیمانان،ښځې کونډې،پېغلې سرتورې ، ګڼ شمېر بې کوره خلک بې درکه او معذوران شول ۔ دغه وجه ده چې د بهر دنیا په نظر کښې د پښتنو او د دې سیمې ډېر خراب تصویر جوړ شوې دے ۔تر څو پورې چې په دې راپېښه مسئله په سنجیدګۍ سره غور نه وې شوې او د دې د ممکنه حل د پاره لارې چارې نه وې په ګوته کړې شوې تر هغې پورې زمونږ ملک او قام ترقي نه شي کولے۔

په دې اهمې او نازکې مسئلې د غور وفکر په غرض پښتو څانګه پېښور پوهنتون د یو عالمي کانفرنس کولو اراده لري په دې کانفرس کښې د پښتونخوا نه په خصوصي توګه،د ټول ملک نه په عمومي او د بهر دنیا نه هم سکالران،پوهان،سیاسي مشران،ادیبان،شاعران، صحافیان او طالبعلمان هم ګډون کوي چې په دې سنجیده مسئله د غوروفکر د پاره زمونږ سره په بحث کښې شامل شي۔

په دې کانفرس کښې به هغه سکالران حصه اخلي چې هغوي د پښتنو په دې مسئله ژور نظر لري،د دې ریسرچ او بحث په نتیجه کښې به د دې مسئلې مختلف وجوهات مخې ته راشي او د هغې د حل د پاره به مختلف تجویزونه وړاندې شي ۔ دغه تجویزونه به د حکومت ذمه واره ادارو ،یو این او،هیومن رائټس کمېشن او میډیا ته

وړاندې کولے شي چې په خپلو پالېسو جوړولو کښې د دې نه مدد واخلي او د دې مسئلې د حل کولو د پاره سنجيده کوششونه وکړي.

کوم سکالران چې خواهش لري چې زمونږ سره په دې کانفرنس کښې د موضوع په اړه مقالې واوروي هغوی د ې د مقالې خلاصه (Abstract) [تقريبا دوه سوه الفاظ] او خپله پېژندګلو(C.V) راوليږي . د کمېټۍ د فيصلې نه پس به منتخب مقاله نګاران خبرولے شي.

د خُلاصو رالېږلو اخري نېټه : 15 اګست 2015

د مکمل مقالې رالېږلو اخري نېټه: 15 ستمبر 2015

د کانفرنس نېټه (دا نېټه ختمي نۀ ده): 28 – 30 ستمبر 2015

پروفېسر ډاکټر عبدالوحيد
چېرمېن پښتو څانګه پېښور پوهنتون
فون: 00-92-091-9216487
اي مېل: noorzada34@yahoo.com
Aman_9051746@yahoo.com

# THREE DAYS INTERNATIONAL CONFERENCE ON "THE IMPACTS OF TERRORISM ON THE PUKHTOON AND ITS LITERATURE"

**ABSTRACT:**

After the incident of 9/11, the Pukhtoon Community is totally in the grip of terrorism, which vandalized the overall moral and image of this community. The fire of terrorism has deeply demolished the overall socio-economic, education and other life essential aspects of this territory.

A lot of people have lost their lives, uncountable are missing, much more the terrorism has gifted a lot of orphans and widows to this area. Besides of this a large number of people have become disabled and paralyzed due to huge terrorist attacks and bombardment.

Until we search a solution for this evil, our community will represent a black image of Pukhtoons to the other nations of the world.

In order to search out a solution and to enable the pukhtoons to stand them on their feet and to gain back their past reputation, the Department of Pashto, University of Peshawar has intended to launch an International Conference in which great Scholars and Journalists across the world will participate to make a fruitful and concrete strategic plan for resolving the terrorism problem.

The participants of the Conference should possess detail study of Pukhtoon community and should have deep experience of the existing scenario of the pukhtoon community, who will make strategic plan and will draw guidelines for submission to the think-thanks and policy-makers of this area, which should indicate the parameters for eradication the terrorism from the historical and beautiful teorritory of Pukhtoons.

The interesting participants are request to send their complete CVs as well as abstracts to the undersigned for further consideration on or before **15/08/2015**. The eligible participants who fulfilled the criteria for participation in the Conference will be informed accordingly.

| | | |
|---|---|---|
| Last date for submission of abstract | : | 15-08-2015 |
| Last date for submission of full paper | : | 15-09-2015 |
| Expected date for conference | : | 28 to 30 September 2015 |


**(Prof. Dr. Abdul Waheed)**
**CHAIRMAN**
**Department of Pashto**
**University of Peshawar**

**Contact No. 092-091-9216487**
**e-mail:**
**noorzada34@yahoo.com**
**aman_9051746@yahoo.com**